CLEAN AIR. CLEAR LUNGS.
Not all workplace hazards are visible

# مهندسي شوې ډبرې: د کارپه ځای کې د خطرناکې هوا تنفسکول

**په مهندسي شوې ډبرو کارکول کېدای شي داسې دوړه وکړي چې سیلیکا silica پکښې وي.**
**د سیلیکا په دوړوکې تنفس کول کیدای شي سږې زیانمن کړي او د سږو قوي او وژونکې ناروغي لکه سیلیکوسیس (د ګرد او ریګ څخه د سږو ډکېدل)، برونشایټیس (د سږو د عمومي نلونو مکروبي کېدل امفیزما (د سږو د کوچنیو کڅوړو یو ځای کېدل چې لویه کڅوړه جوړوي) اود سږې د سرطان سبب ګرځي.**

ددې کار په درشل کې د مهندسي شویو ډبرو له غوڅولو، سوري کولو، میده کولو، نرۍ کولو یا توږلو، ریګمالولو، او ښویولو یا پالش کولو څخه هوا ته د سیلیکا دوړې خپریږي. کارکونکي کیدای شي د سیلیکا له دوړو سره په لاندې ډول مخامخ شي. دمثال په توګه:

- د مهندسي شویو ډبرو څخه شیان جوړول
- د مهندسي شویوډبرو څخه د جوړو شویو شیانو ځای په ځای کول، روغول، او لیرې کول
- د ودانولو او نړولو په درشل کې
- په ودانیزو یا ساختماني ساحو کې د پاکولو په کارونو کې او یا هم د جوړولو په ورکشاپونو کې

که تاسې د کار څښتن یاست، نو تاسې د کار په ځای کې د روغتیا او خوندیتوب (Work Health and Safety) د قوانینو په اساس قانوني مسؤلیت لرئ چېډ خپل ځان او کارکوونکو د روغتیا او خوندیتوب ساتنه وکړی.

دا په دې معنی چې دکار په ځای کې ستاسې له وسې چې هرڅه پوره وي باید د خطرناکې هوا د تنفس خطر له مینځه یوسئ او اداره یې کړئ.

## خطرونه و پیژنئ

مهندسي شوې ډبرې د سیلیکا دوړې لري، دا یو داسې خطر دئ چېکارکوونکو ته د زیان رسولو توان لري.

د کارکونکو د خوندي ساتنې لپاره لومړی ګام دا دئ چې د کار په ځای کې هغه ځایونه په نښه کړي چې د سیلیکا دوړې په کې وي.

د سیلیکا دوړې کیدای شي دلیدو وړ نه وي، که دا دوړې په سترګو هم ونه لیدل شي، کیدای شي کارکوونکي له خطر سره مخامخ کړي، ځکه چې کوچنۍ زرې یې د سږو تل ته ننوځي.

وګورئ چې آیا ستاسې کارکوونکي د سیلیکا دوړې تنفس کوي، نولاندیني پروانه ترسره کړئ ترڅو ددې کار په پیژندنه کې له تاسوسره مرسته وکړي:

- د خپل کار د ځای پلټنه او نظارت وکړئ او وګورئ چې ستاسې کارکونکي خپل کار څرنګه تر سره کوي.
- د خپلو کارکوونکو سره خبرې وکړئ.
- له خپلو شبکواد موادود تیارولو له کړی سره د هغو تولیداتو په هکلهخبرې وکړئ چې تاسې ګټه ورڅخه پورته کوئ.
- یو مسلکي کس راوغواړئ تر څو د هوا معاینه وکړي.
- هغه معلومات چې د کار د روغتیا او خوندیتوب د تنظیمد ادارو، ددې صنعت د ټولنو او د خوندیتوب د مسلکي کسانو لخوا چمتو شوي دي بیا ولولئ.

safe work australia

## د خطرونو اداره کول

که ستاسې کارکونکي د سیلیکا له دوړو سره مخامخ وي، تاسې یې د کنټرولولو لپاره باید تدابیر ونیسئ. دا په دې معنی چې تاسې داسې کارونه ترسره کړئ چې عملي بڼه ولري، ترڅو د روغتیا او خوندیتوب خطرونه له مینځه یوسې او یا یې کچه راټیټه کړې.

که تاسې ونه توانیږی چې د سیلیکا د دوړو خطر له مینځ یوسئ، نو خپل کارکوونکي ددې دوړوله تنفس کولو څخه د کنټرول د تدابیرو په نیولو سره په لاندې ډولونو ساتلی شې: کنټرول د تدابیرو په نیولو سره په لاندې ډلګووژغورئ:

- هغه ډبره چې په لوړه کچه سیلیکا لري په ځای یې داسې ډبره وکاروئ چې د سیلیکا کچه یې ښکته وي، او یا نور مواد ددې په ځای وکاروئ.
- له هغې ساحې څخه چې په ډبروباندې کارکیږي خپل کار کوونکي جلا کړئ.
- په هغه ځای کې چې ډبرې غوڅیږي د هوا د تصفیې سیستم و کاروئ او ډبرې لمدې غوڅې کړئ.
- د روغتیا او خوندیتوب د پالیسیوا پراوونوله سمون سره سم کار وکړئ.
- کارکوونکو ته مناسب او پرمخ ځای پرځای شوي ماسکونه ورکړئ.

## څارنه او بیاکتنه

تاسې باید د کنټرول له تدابیرو څخه څارنه او بیا کتنه وکړئ، ترڅو ددې ډاډ ترلاسه کړئ چې اغیزمن دي.

- په کومو حالاتو کې چې په اغېزمن ډول خطر نشئ کنټرول کولای.
- مخکې له دې چې تاسې د کار په ځای کې بدلون راولئ، ددې امکان ډیروئ چې خطر پیدا او یا یې ډېر کړئ.
- کله چې نوی مانع یا خطر پیژندل شوی وي.
- کله چې ستاسې مشوره د خپلو کارکوونکو سره ددې وړاندیز کوي، چې بیا کتنه اړینه ده.
- که د روغتیا او خوندیتوب استازی د بیا کتنې غوښتنه وکړي.

## نورمعالومات

د کار د روغتیا او خوندیتوب او په کار کې د سرو د ناروغیو په هکله د نورو معلوماتو لپاره، د استرالیا د خوندي کار (Safe Work Australia) ویب پاڼې ته په دې پته مراجعه وکړئ: swa.gov.au/clearlungs

او همدا راز تاسې کولای شئ چې نور معلومات په لاندې ډول تر لاسه کړی:

- ستاسې د کار د روغتیا او خوندیتوب تنظیموونکې دولتي اداره
- صنعتي ټولنې
- د خوندیتوب مسلکی کسان

safe work australia